د ارادی ملی ورځپانه
ادیت: عبدالرحمن وردک

٢٠١٠/٠٣/٠٨

# افغاني ښځې د ترحم وړ دي!

نن ورځ د مارچ اتمه د ښځو نړیواله ورځ ده، دغه ورځ زموږ پر هیواد سربیره، د نړۍ په زیاترو هیوادونو کې لمانځل کیږي. تمه کیږي، چې دغه ورځ نن هم د نورو کلونو په شان د افغانستان په مرکز او یو شمیر ولایتونو کې په شاندارو مراسمو کې ولمانځل شي، خو دا ډول لمانځنې په هیڅ صورت نه شي کولای، د افغان ښځو اړتیاوو ته د حل لار ترسیم او په ستونزو کې یې کمی راولي.

دا یو واقعیت دی، چې په افغانستان کې نه یوازې ښځې، بلکې د دې هیواد هر وګړی، له زیاتو ستونزو او ربړو سره مخ دی، تراوسه پورې، دلته د انسان حق هم نه دی خوندي، البته موږ او تاسې ټول شاهدان یو، چې دلته ګرده ورځ انسانان په بیلابیلو نومونو او عنوانونو د هیواد په لر او بر کې وژل کیږي، ځورول کیږي، له خپلو منو شړل کیږي، کورونه یې د درنو درنو بمونه په وسیله وړانیږي او داسې نورې ناوراوې ورسره کیږي، دا یوازې د هغو ډلو ټپلو او کسانو له لورې، چې په هواد کې د هرې بدمرغی ټاپه ورپورې ټومبل کیږي او ټوله نړۍ وسله په لاس پسې ګرځي، بلکې د هغو کسانو له خوا هم دغه سره لیکه ماتیږي، چې ځانونه بشرپال او د بشر او انسانیت د حقونو اصلي مدافعین او په پای کې د ښځو د حقوقو او ازادۍ رښتیني علمبرداران بولي.

همدا اوس د هیواد په سویل کې، تور غوبل جوړ دی، چې زیاتره په کې زموږ بیګناه تورسرې او ماشومان سوځي، د ټولنې هغه بې وسه او مظلوم قشر، چې هم له فزیکي او هم له رواني پلوه کمزورې او ناتوانه دی.

د نویو شمیرنو له مخې، د هیواد په لر او بر کې د جنګ جګړو او پوځي عملیاتونو په بهیر کې، زیاتره انساني زیانونه ښځو ته متوجه دي، د همدې شمیرنو پر بنسټ، د هرو ١٠٠ ملکي وګړو له تلفاتو څخه، ٤٢ تنه یې ښځې او ١١ تنه یې ماشومان وي. له دې نه اخوا، په دې شمیرنه کې چې کوم پاتې ٤٧ سلنه نارینه، د هیواد په روانو تاوتریخوالو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي ، د هغوی زیات عاطفي او رواني بوج ښځې ګالي. لکه څرنګه چې ثابته ده، کله چې د کورنۍ نارینه خپل ژوند له لاسه ورکوي، د کورنۍ او ماشومانو د نفقې او د کور د نورو چارو سمبالښت د ښځو پر مسوولیتونو ورزیات او له دې اړخه بیا هم ښځې دي، چې تر زیات فشار لاندې راځي او ځورېږي، ځکه له یوې خوا بیوزلې او له بلې خوا له بې کسی سره مخ وي.

له بلې خوا، د هیواد په زیاترو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو لړۍ هم ډېر کمزورې او په ځینو سیمو کې خو له نشت سره برابره ده، چې د دغه مسئلې جانبي عوارض هم تر ډېره بریده، ښځې خپل هدف ګرځولي او له دې اړخه، ( په هیواد کې د روغتیایي خدمتونو د کمزورتیا او یا نشتوالي) له امله هره ورځ یو شمیر ښځې خپل ژوند له لاسه ورکوي. بل پلو، په داسې حال کې، چې د رسمي شمیرنو له مخې، همدا اوس د هیواد ٩٠ سلنه ښځې د سواد او زده کړې له نعمت څخه محرومې دي، د هیواد په زیاترو برخو په ځانګړې توګه سویلي ولایتونو کې، د نجونو د زده کړې بهیر هم له سختو ستونزو سره مخ دی، د همدې ستونزو له امله، د هیواد د سویلي ولایتونو نجونو د څو تېرو کلونو په بهیر کې نه د کتاب او کتابچې مخ لیدلی او نه یې هم د ښوونځي په چاپیریال کې قدم ایښي. د کارپوهانو په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

باور که وضعیت همداسې دوام ولري، اټکل کیږي، چې د هیواد ۷۰ سلنه ښځینه نوی نسل، د زده کړې له نعمت څخه بې برخې پاتې شي.

په هر صورت، خبرې ډېرې نه اوږدوو، هغه څه چې په پورتنیو کرښو کې انځور شو، هغه څه دي، چې د هیواد معاصرې ښځې یې ننګولې او د افغانې ښځې بنسټیزې ستونزې ګڼل کیږي، پر دې بنسټ، که دولت او نړیواله ټولنه غواړي، چې افغانې ښځې، نورې بدې ورځې و نه ویني، هوسا او ارامه ژوند ولري او د نیکمرغۍ پر لورې ګامونه واخلي، نو اړینه ده، چې د داسې نمایشي او سمبولیکو غونډو او محفلونو د جوړولو او بېځایه لګښتونو پر ځای، چې هېڅ کله یې هم د افغانې ښځې درد نه دی دوا کړی، عملي ګامونه واخلي، د هیواد په بیلابیلو برخو کې د روغتونو په جوړولو سره د ښځو روغتیایي او ژوند ته پام او د زده کړې د زمینې په برابرولو سره  پر افغانې بیوزله او بې اسرې ښځې ورحمیږي.

پایان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ